دافغانستان اسلامي امارت
د ارشـــــاد، حـــــج او اوقافـــــو وزارت
د مساجدو او حُسَینیو د ارشاد او انسجام لوی ریاست
دجمعې ورځې د خطابت موضوع او
لیکلی تقریر اوبیان چې د هیواد دمرکز او ولایاتو
ټولو خطیبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې لیږل کیږي

---

٤/ شعبان المعظم/۱۴۴۷ هـ، ق مطابق ۳/ سلواغی/۱۴۰۴هـ، ش

# په اسلام کې د چاپیریال ساتنې اهمیت او د هواء د ککړتیا د مخنیوي په اړه سپارښتنې

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

الحمد لله رب العالمين ، والصلاة والسلام على سيد المرسلين ، وعلى آله وصحبه أجمعين، ومن تبعهم بإحسان إلى يوم الدين .

أما بعد: قال الله سبحانه وتعالى:( أَ لَمْ تَرَوْا أَنَّ اللَّهَ سَخَّرَ لَكُمْ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ وَأَسْبَغَ عَلَيْكُمْ نِعَمَهُ ظَاهِرَةً وَبَاطِنَةً وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يُجَادِلُ فِي اللَّهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ وَلَا هُدًى وَلَا كِتَابٍ مُنِيرٍ).لقمان: (۲۰)

**درنو حاضرینو!**

**السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته.**

چاپیریال دخاورې، هواء، اوبو، بوټو او ټولو هغو اجسامو څخه عبارت دی چې الله تعالی زمونږ د استفادې لپاره پیداکړي دي.

د اسلام مبارک دین ددغو اجسامو ځمکې، اوبو او هواګانو په ساتنه او حفاظت باندې ټینګار کړی دی

ځکه چې دا هغه نعمتونه دي چې الله تعالی د انسانانو، حیواناتو، حشراتو او الو تونکو مرغانو د استفادې لپاره پیدا کړي دي.

په لومړیو کې انسانانو به د طبیعت له ناوړه آفتونو څخه ځانونه ساتلو، خو اوس داسې وخت راغلی دی، چې باید طبیعت د انسانانو له فساد څخه وژغورل شي.

کله چې انسانانو پر ځمکه پرمختګ وکړ، نو شته فردي او اجتماعي مشکلات یې حل کړل او د ژوند په لاره کې پراته خنډونو ته یې د حل لاره ومونډله او د ساینسي علومو ته د ودې ورکولو په مټ یې زیات پرمختګ وکړ، کارخانې یې جوړې کړې، د ځمکې په بطن کې پراته معدنونه یې راوویستل او په خپله ګټه یې وکارول او موټرې، ریل ګاډې، هوایې جهازونه، بحري کشتی او جهازونه یې جوړکړل ، په ځمکه کې پراته حرارتي منابع یې راوویستلې او د هغې په مټ یې د ژوندانه په هره برخه کې ګټور وسائل او اسباب ترلاسه کړل.

خو له بل پلوه دغه صنعتي پرمختګ له انسان څخه پاکه هواء واخیستله، پاکه هواء یې په ضرري غازاتو ککړه کړه، پاکې اوبه یې په زهریله موادو ککړې کړلې ، پاکه خاوره یې په کیمیاوي موادو سره زهرجنه کړه. هره ورځ تولیدي کارخانې، بریښـــنایې تولیداتي سټیشنونه، موټرې او صنعتي کارخونې په زرهاوو ټنونو ګلخانه یې ګازونه، غبارونه او فضولي مواد ټولنې ته وړاندې کوي او انسانان هره ورځ بې شمیره زهرجن او وژونکي غازات تنفس کوي، چې له امله یې هره ورځ انسانان په تنفسي ناروغیو اخته کیږي ، خلک د زړه په مرضونو، تنفسي مرضونو، د جیګر او شیشونو په مرضونو، د سترګو او د پوستکي په مرضونو اخته شول او انساني روغ صحت د مختلفو خطراتو سره مخ شو.

خو الله جل جلاله چې په پټو او ښکاره وو، په ماضي ، حال او مستقبل باندې عالم ذات دی انسانان یې لا د مخه خپلو کړنو ته متوجه کړي وو او داسې یې ورته فرمایلي ؤ، چې په ځمکه او فضاء کې هرڅه ماستاسو د منفعت لپاره پیدا کړي دي او په ځمکه کې د هرډول فساد څخه ځانونه وساتئ.

د چاپیریال ساتنې موضوع ته د اسلام مبارک دین زیات اهمیت ورکړی دی او فرمایلي یې دي چې د خپل چاپیریال حفاظت وکړئ او ځمکه په هراړخیز ډول آباده کړئ او آباده یې وساتئ او په ځمکه کې هغه فعالیتونو ته وده ورکړئ چې د ځمکې د آبادۍ سبب ګرځي ؛ لکه د ونوکینول او د ځمکې کرکیله کول او نور هغه کارونه چې د ځمکې د آبادۍ سـبب ګرځي او د ځمکې طبیعت ورسره ښایسته کیږي. الله تعالی فرمایلي دي:(هُوَ أَنْشَأَكُمْ مِنَ الْأَرْضِ وَاسْتَعْمَرَكُمْ فِيهَا ). هود:(٦١)ترجمه: همدغه (الله) پیدا کړي یئ تاسې له ځمکې (چې آدم یا ماده د نطفې ده) او اوږده عمرونه یې درکړي دي تاسې ته په دغې(ځمکې) کې

او کله چې په ځمکه کې کوم کار کوئ باید ددوه شرطونو زیات خیال وساتئ یو داچې ستاسې کار او فعالیت باید د چاپیریال د تخریب او د هواء دککړتیا سبب نشي.او بله داچې له ضرورت څخه تجاوز مه کوئ. ځکه که چیرې تاسې طبیعت او چاپیریال فاسد کړی ددې زیان تاسو ته رسیږي .الله تعالی فرمایلي دي:( وَلا تَبْغِ الْفَسَادَ فِي الأَرْضِ إِنَّ اللَّهَ لا يُحِبُّ الْمُفْسِدِين) القصص:(٧٧)

ترجمه: او مه غواړه (ای قارونه!) فساد (په تکبر ظلم او بغي سره) په ځمکه کې بېشکه چې الله محبت نه کوي فساد کوونکو سره.

پـه یو بـل مبارک آیت کې راځي:( يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّمَا بَغْيُكُمْ عَلَى أَنفُسِكُم مَّتَاعَ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا ثُمَّ إِلَينَا مَرْجِعُكُمْ فَنُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُون).یونس:(٢٣)

ترجمه: ای خلقو! بېشکه همدا خبره ده چې جزاء د شرارت ستاسې په نفسونو (ځانونو) ستاسې ده (اوس کوئ تاسې) عیش د ژوندون لږ خسیس بیا خاص مونږ ته راتله ستاسې دي (په قیامت کې) نو خبر به درکړو تاسې ته په هغه عمل چې وئ تاسې چې کاوه به مو.

مفسرین کرام ددې آیت په تفسیر کې لیکي یعنې د سرکشۍ او فساد نتیجه بیرته تاسو ته راجع کیږي لکه عربي متل دی: (البغي يصرع أهله ). المحرر الوجيز ـ موافق للمطبوع (٣/ ١٢٩)

ژباړه: بغې او سرکشي خپل خاوندان چپه کوي.

په ځمکه کې فساد يو قرآني، اصل دی او په زياتو مواردو ناکاره کارونو يې اطلاق کيږي، چې د هغې له جملې څخه د چاپيريال تخريبول او د هواء ککړتيا ده، د ځمکې په سر د ونو وهل، د شنو ساحو تخريبول، په کارخانو کې ناکاره او ضرر رسوونکي مواد سوزول، په بخاريو کې د پلاستيکونو، د ربړونو سوزول او نور داسې موادو سوزول چې د هواء دککړتيا سبب گرځی.

اوکه چيرې مونږ په خپله خوښه هر کار وکړو، ولو که زمونږ د کارونو له امله چاپيريال او هواء ککړيږي، نو ددې ناوړه نتيجه به مونږ ته رسيږي اوبه به مو ککړې وي، هغه هواء چې مونږ يې تنفس کوو هغه به په زهرجنو موادو ملوثه وي په پايله کې به مونږ په مختلفو مرضونو اخته کيږو.

ددې لپاره چې د چاپيريال دساتنې او د هواء د ککړتيا څخه په ښه ډول مخنيوی وکړو ، غواړو د چاپيريال ساتنې په برخه کې هر اړخيز معلومات را جمع کړو.

**۱-د هواء د ککړتيا د مخنيوي په اړه ديني لارښوونې.**

د اسلام له نظره پاکه او صفا هواء د روغ پاتې کيدو لپاره ډير مهم ده او د نفس ساتنه د شريعت د پنځو مقاصدو څخه مهم مقصد دی.
هواء پاکه ساتل او د ککړتيا څخه يې ځان ساتل د اوبو د پاکو ساتلو څخه کم کار نه دی،ځکه د زهرجنو موادو څخه پاکه هواء د انسانانو ، حيواناتو ، نباتاتو او حاصلاتو د ژوندي او روغ پاتې کيدلو لپاره اړينه ده.

د هواء د اهميت په باره کې په قرآن کريم کې بې شميره آيتونه راغلي دي.الله تعالى فرمايلي دي:{وَأَرْسَلْنَا الرِّيَاحَ لَوَاقِحَ فَأَنزَلْنَا مِنَ السَّمَاء مَاء فَأَسْقَيْنَاكُمُوهُ}الحجر: (۲۲)

ترجمه: او مونږ هواگانې ليږلي دي چې بلاربه وونکي دي پس مونږ له بره اوبه نازلې کړی نو مونږ هغه په تاسو وڅښولې.په يو بل مبارک آيت کې راځي:{وَمِنْ آيَاتِهِ أَنْ يُرْسِلَ الرِّيَاحَ مُبَشِّرَاتٍ وَلِيُذِيقَكُمْ مِنْ رَحْمَتِهِ وَلِتَجْرِيَ الْفُلْكُ بِأَمْرِهِ وَلِتَبْتَغُوا مِنْ فَضْلِهِ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ} الروم: (٤٦)

ترجمه: او دهغه (الله) له نښو څنې دادي چې هغه هواگانې راليږلي چې زيری ورکوونکي دي او ددې لپاره په تاسو له خپل رحمته څنې (مزې) وڅکوي او ددې لپاره چې کشتی د هغه په حکم سره روانې شي او ددې لپاره چې تاسو د هغه له فضله ولټوئ او ددې لپاره چې تاسو شکر وباسئ.

پاکه هواء د الله تعالى د سترو نعمتونو څخه يو نعمت او رحمت دی او هوا پاکه ساتل زمونږ دټولو مسئوليت دی ځکه چې د ژوندي موجوداتو ژوند ورپورې تړلی دی او د هوا ککړول د ټولو ژوندي موجوداتو په ژوند او حق باندې تيری کول دي.

د هواء د پاک ساتلو په غرض د اسلام مبارک دين د ونو بوټو په کينولو او د زراعت کرلو ته خلک هڅولي او ترغيب کړي دي،ونې بوټې، باغونه او زراعت اکسيجن توليدوي او د ضرري کاربُن مخه نيسي. د همدې امله د اسلام مبارک دين خپل پيروان د ونو بوټو او د زراعت کرلو ته تشويقوي .

په حديث شريف کې راځي: (مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَغْرِسُ غَرْسًا أَوْ يَزْرَعُ زَرْعًا فَيَأْكُلُ مِنْهُ طَيْرٌ أَوْ إِنْسَانٌ أَوْ بَهِيمَةٌ إِلاَّ كَانَ لَهُ بِهِ صَدَقَةٌ). مسلم (٥/ ٢٨)

ژباړه : کوم مسلمان چې يو نيالګی کينوي يا کښت وکړي بيا ورڅخه مرغه يا انسان يا حيوان ورڅخه څه خوراک وکړي، دا د هغه مسلمان لپاره صدقه شوه.

ددې حديث په شرح کې امام ابن حجر رحمه الله فرمايلي دي: په دې حديث کې د ونو کينولو او د زراعت په کرلو او د ځمکې د آبادولو په هکله فضيلت پروت دی. فتح الباري (٧/ ١٦٧)

په يو بل روايت کي راځي :عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ :(إِنْ قَامَتْ عَلَى أَحَدِكُمُ الْقِيَامَةُ ، وَفِي يَدِهِ فَسِيلَةٌ فَلْيَغْرِسْهَا). مسند أحمد (٣/ ١٨٣)

ژباړه : که چيرې ستاسو پر يوه کس باندې د دنيا عمر پای ته ورسيده او قيامت ورځ ورباندې راغله او په لاس کې يې د خرما نيالګی ؤ نو هغه دې کينوي او فرصت دې له لاسه نه ورکوي.

د همدې امله پرته له ضرورته د ونو او بوټو له وهلو څخه منع راغلی ده، ځکه چې د هواء د تصفيې اسباب له منځه ځي.

عَنِ الْحَسَنِ أَنَّهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا تَقْطَعُوا الشَّجَرَ، فَإِنَّهُ عِصْمَةٌ لِلْمَوَاشِي فِي الْجَدْبِ» مصنف عبد الرزاق الصنعاني (٥/ ١٤٦)

ژباړه: د حسن بصري رحمه الله څخه مرسلاً نقل دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: تاسې مه قطع کوئ ونه، بيشکه ونه ساتونکې د څارويو ده په وچکالۍ کې.

همدار راز هواء ککړولو سره انسانانو ته ، حيواناتو ته، نباتاتو ته او مرغانو او حشراتو ته ضرر رسيږي او په اسلامي شريعت کې هر ډول ضرر رسول ناروا او حرام عمل دی .

په حديث شريف کې راځي چې رسـول الله صـلى الله عليه وسـلم وفرمايل: «لَا ضَرَرَ وَلَا ضِرَارَ». موطأ مالك ت عبد الباقي (٢/ ٧٤٥)ترجمه: نه ابتداءً ضرر رسول جائز دي او نه انتقاماً ضرر رسول جاېز دي.

هواء پـه مختلفو بنو باندې ککړيږي، لکه د زهرجنو کيمياوي موادو خپرول يه هواء کې ، په کورونو او کارخانو کې د ډېرو ســکرو ربړونو، پلاستيکونو سيزل، د زړو او له کاره لويدلو نقليه وسايطو دو دونه او ګردونه او دبی کيفيته تيلونه استفاده کول.

مونږ او تاسـو ته په کار دي چې د هواء د ککړتيا څخه په کلکه ځانونه وسـاتو په حمامونو او مرکز ګرميو کې فتلرونه نصب کړو، د ربړونو او پلاستيکونو له سوزولو څخه ډډه وکړو، د سرسبزه ساحو حفاظت وکړو، د ځنګلونو له وهلو څخه ډډه وکړو.

**۲-د اوبو له ککړتیا څخه ځان ساتل.**

په اسلام کې د اوبو لوی ارزښت دی او په قرآن کریم کې د اوبو ذکر په مختلفو ځایونو کې شوی دی چې د اوبو په اهمیت دلالت کوي او الله تعالی فرمایې چې مونږ هر څه په اوبو ژوندي ساتلي دي: (وَجَعَلْنَا مِنَ الْمَاءِ كُلَّ شَيْءٍ حَيٍّ). الانبياء:(۳۰)

ترجمه:اوپیدا کړي دي له اوبو څخه هر شی ژوندی). انسانان په اوبو ژوندي دي، حیوانات د اوبو په برکت ژوندي دي، نباتات په اوبو ژوندي دي، مرغان او نور زنده سر په اوبو ژوندي دي او پرته له اوبو ژوند ممکن نه دی. د اوبو دې ارزښت او اهمیت په باره کې الله تعالی فرمایلي دي:( هُوَ الَّذِي أَنْزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً لَكُمْ مِنْهُ شَرَابٌ وَمِنْهُ شَجَرٌ فِيهِ تُسِيمُونَ).النحل:(۱۰)

ترجمه: الله هغه ذات دی چې نازلې کړې رالیږلې یې دي له طرفه د اسمانه اوبه چې دي تاسو ته له دې اوبو څخه څښل او (زرغونوي) له دغو اوبو څخه ونه (او واښه) هم چې په دغو وښو کې څروئ تاسې (حیوانات خپل).

په یو بل آیت کې داوبو اهمیت الله تعالی داسې بیان کړی دی.( أَوَلَمْ يَرَوْا أَنَّا نَسُوقُ الْمَاءَ إِلَى الْأَرْضِ الْجُرُزِ فَنُخْرِجُ بِهِ زَرْعًا تَأْكُلُ مِنْهُ أَنْعَامُهُمْ وَأَنْفُسُهُمْ أَفَلَا يُبْصِرُونَ).السجدة:(۲۷)

ترجمه: آیا نهویني دوی چې بېشکه مونږ بهوو (ویالې د) اوبو طرف د ځمکې وچې ته (چې گیاه په کې نه وي) پس راوباسو مونږ په هغو سره کښت.چې خوري له دغه کښته چارپایان د دوی (واښه پاڼې) او نفسونه د دوی (دانه او مېوه) آیا پس نه وینې (نښې د قدرت د ده).

د ابو دې ارزښت په کتو د اوبو په استعمال کې له اسراف څخه منع راغلی ده. په حدیث شریف کې راځي:عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّ بِسَعْدٍ وَهُوَ يَتَوَضَّأُ، فَقَالَ: «مَا هَذَا السَّرَفُ يَا سَعْدُ؟» قَالَ: أَفِي الْوُضُوءِ سَرَفٌ؟ قَالَ: «نَعَمْ، وَإِنْ كُنْتَ عَلَى نَهْرٍ جَارٍ» مسند أحمد مخرجا (۱۱ /۶۳۷)

ژباړه: د عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه څخه روایت دی ، هغه وایې چې بیشکه نبي علیه السلام تیر شو په څنگ د سعد رضي الله په داسې حال چې حضرت سعد رضي الله اودس کولو، نبي علیه السلام ورته وفرمایل: دا څومره اسراف دی ای سعده! (رضي الله عنه) . حضرت سعد رضي الله عنه عرض وکړ آیا په اودس کې هم اسراف شته ؟ نبي علیه السلام وفرمایل: هو! د اوبو په لگښت کې هم اسراف شته اگر که ته د روان نهر په غاړه اوسې (او اودس کوې).

نو هرکله چې د اوبو په استعمال کې اسراف ناروا دی ، نو د اوبو ککړول په طریق اولی ناروا دي.

د اوبو ککړول چې د ژوندي مخلوقاتو د ژوندي پاتې کیدو مهم سبب دی، د هغې ککړول خورا لوی فساد دی او الله تعالی د هر ډول فساد څخه خپل پیروان منع کړي دي. الله جل جلاله فرمایلي دي: (كُلُوا وَاشْرَبُوا مِنْ رِزْقِ اللَّهِ وَلَا تَعْثَوْا فِي الْأَرْضِ مُفْسِدِينَ). البقرة:(۶۰)

ترجمه:خورئ او څښئ له (خاصې) روزی د الله څخه (بې له واسطې د اسبابو) او مه تېرېږئ له حده په ځمکه کې حال دا چې ورانی کوونکي اوسئ تاسې (په خپل فساد اچولو سره).

يعنې کوښښ مه کوئ په ځمکه کې د فساد کولو. (العيث) سخت او زياد فساد ته ويل کيږي.النكت والعيون ـ موافق للمطبوع (١/ ١٢٨)

په يو بل مبارک آيت کې الله تعالی فرمايلي دي:(وَلاَ تُفْسِدُواْ فِي الأَرْضِ بَعْدَ إِصْلاَحِهَا). الاعراف:(٥٦)

ترجمه:او مه کوئ فساد (ای انسانانو!) په ځمکه کې وروسته له اصلاح د دې.

الله تعالی خلک په ځمکه کې له فساد څخه منع کړي دي او هر ډول فساد حرام دی که هغه د عقيدې فساد دی او که هغه د عمل په بڼه فساد دی .

حافظ ابن كثير ددې آيت په تفسير کې وايي:( ينهى تعالى عن الإفساد في الأرض وما أضره بعد الإصلاح فإنه إذا كانت الأمور ماشية على السداد ثم وقع الإفساد بعد ذلك كان أضر ما يكون على العباد). تفسير ابن كثير / دار الفكر (٢/ ٢٧١)

ژباړه: الله تعالی نهی کړی ده په ځمکه کې له فساد کولو څخه او هغه څه چې ځمکې ته ضرر ورسوي د اصلاح څخه وروسته چې ټول کارونه سم روان وي او بيا په کې فساد رامنځ ته شي، دا ډول فساد ډير زيات زيان بار دی بندگانو ته.

چې د چاپيريال او اوبو ککړتيا هم ددې فساد له مصداقونو څخه دی او ددې فساد په پراخه پيمانه زيانونه او ضررونه خلکو ته اړوي ، نو دا هم په طريق اولی فساد دی.

د اوبو ککړتيا انسـانانو ته، حيواناتو ته ، نباتاتو او فصـلونو ته ډول ډول زيانونه او تاوانونه اړوي. د اوبوککړتيا د انسانانو د مختلفو مرضونو لامل کيږي لکه توبرکلوز، نمونيا او محرقه تبه، د معدې او امعاوو مرضونه، د ځيگر او شوشونو مرضونه او داسې نور.

همداراز د اوبو ککړتيا حيواناتو او زراعت ته هم زيات ضرر اړوي.اوبه ککړول او فاسدول دا د منافقانو صفت دی چې کله به ورته وويل شو چې (وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ لا تُفْسِدُوا فِي الأَرْضِ قَالُوا إِنَّمَا نَحْنُ مُصْلِحُونَ) البقرة:(١١)

ترجمه:او کله چې دوی(منافقانو)ته وويل شي چې فساد مه کوئ په ځمکه کې، دوی وايي بيشکه همدا مونږ اصلاح راوستونکي يو.

نو فساد د اسلام خلاف عقيدوي کړنو ته وويل او هم په ځمکه کې تخريبي کارونو ته او زيان رسوونکو کارونو ته بې وويل.

په ځمکه کې اوبه ککړول د فساد عمل دی او مؤمنان له فساد کولو څخه ځانونه ساتي او دا د منافقانو خصلت دی چې په ځمکه کې هغه کارونه کوي چې په نتيجه کې د زراعتونو او فصلونو تباه کول کوی او يا د انسانانو وژل او هغوی ته تاوان او زيان رسوي.

الله تعالی فرمايلي دی:( وَإِذَا تَوَلَّى سَعَى فِي الْأَرْضِ لِيُفْسِدَ فِيهَا وَيُهْلِكَ الْحَرْثَ وَالنَّسْلَ وَاللَّهُ لَا يُحِبُّ الْفَسَادَ).البقرة:(٢٠٥)

ترجمه: او کله چې ببرته وگرځي (له تانه ای محمده!) نو گړندی گرځي په ځمکه کې لپاره د دې چې فساد وکړي په ځمکه کې او هلاک کوي کښت او ساکښان (ذي روح) (په سوځولو او وژلو سره) حال دا چې الله نه خوښوي فساد (او معصيت).

رسول الله صلى الله عليه وسلم په اوبو کې متيازې کول ناروا گرځولي دي. په حديث شريف کې راځي: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: «لَا يَبُولَنَّ أَحَدُكُمْ فِي المَاءِ الدَّائِمِ ثُمَّ يَتَوَضَّأُ مِنْهُ» سنن الترمذي ت شاكر (١/ ١٠٠)

ژباړه: دابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی هغه د نبي عليه السلام څخه روايت کوي چې نبي عليه السلام وفرمايل: هيڅکله دې متيازې نه کوي يو له تاسې چې ولاړه اوبو کې وي او بيا په کې اودس کوي.

**۳-د ځمکې او خاورې ککړتیا.**

خاوره او ځمکه د ژوندانه دچاپیریال مهمه برخه ده. په اسلام کې یواځې خاوره دانسان لپاره ضرورت نه ده، بلکې ټوله ځمکه د ژوند لپاره اړینه ده او دټولې ځمکې حفاظت او ساتنه د انسان مسئولیت دی.

الله تعالی ځمکه او خاوره دانسان د فائدې لپاره پیداکړی ده چې دا دالله تعالی لوی نعمت دی او ددې شکر ویستل په دې کې دی چې خاوره او ځمکه فاسده نشي او انسان بې ددې څخه منع کړی دی چې ځمکه او خاوره فاسده کړي. الله جل جلاله فرمایلي دي: {وَالْأَرْضَ بَعْدَ ذَلِكَ دَحَاهَا * أَخْرَجَ مِنْهَا مَاءَهَا وَمَرْعَاهَا * وَالْجِبَالَ أَرْسَاهَا * مَتَاعًا لَكُمْ وَلِأَنْعَامِكُمْ} النازعات: ۳۰ – ۳۳.

ترجمه: او ځمکه یې له ده نه وروسته غوړولی ده. له دغه ځمکې نه ددې اوبه او ددی واښه راویستلي دي او غرونو لره دغه(الله) محکمه کړی دي ستاسو او ستاسو څارویو د فائدې لپاره.

الله تعالی ځمکه پیدا کړی ده او په ځمکه کې یې اوبه پیدا کړي دي او په ځمکه کې یې هواء پیدا کړی ده چې دا درې واړه د انسان حیوان او نورو ژوندیو ژوو د ژوند لپاره اړین دي.

خاوره او ځمکه د الله تعالی ملکیت دی او ټول مخلوقات په کې د ژوند کولو حق لري. ټول انسانان په ځمکه کې د اوسیدو او د ځمکې د ونو، بوټو ، اوبو څړ ځایونو او د ځمکې له مادیاتو او معدنیاتو څخه سالمه ګټه پورته کړي.

داچې ځمکه او خاوره دانساني ژوندون لپاره مهمه ده ځکه په خاوره کې انسان فصلونه کري، میوه دار باغونه په کې کینوي او ددې لارې څخه غلې دانې تر لاسه کوي او قسماقسم میوي له باغونو څخه ترلاسه کوي ، نو ځکه اسلام د ځمکې او خاورې آبادول لازم ګڼي او دځمکې حفاظت او ساتنه حتمي بولي او خاورې ته هر ډول زیان رسول او یا هغه ککړول او فاسدول حرام ګڼي.

د خاورې او ځمکې ککړول او چټلول او په خاوره کې زهرجن کیمیاوي مواد او بمونه استعمالول لکه خارجیانو چې استعمالول، چې بیاد ژوند او کرکیلې څخه وځي، همدارنګه خاورې ته بې حاجته اوبه ور پریښودل چې بیا د زراعت صلاحیت نلري او یا د خاورې څخه اوبه اړول یا چپول چې بیا خاوره بې حده وچه شي او د زراعت څخه ووځي ، همدا راز په خاوره او ځمکه کې چټلي او مرداري اچول چې د خلکو داستعمال څخه ووځي.

داټول هغه کارونه دي چې اسلامي شریعت ور څخه په فساد تعبیر کوي، بالعکس اسلام د خاورې او ځمکې په آبادولو تأکید کړی دی او د ځمکې او خاورې فاسدول چې په هر شکل وي غندلي او دا یئ حرام کار بللی دی.الله تعالی فرمایلي دي:{ هُوَ أَنْشَأَكُمْ مِنَ الْأَرْضِ وَاسْتَعْمَرَكُمْ فِيهَا} هود:۶۱

ترجمه: همدغه (الله)پیدا کړي یئ تاسې له ځکمکې(چې آدم یا ماده نطفی ده)او اوږده عمرونه یې درکړي دی تاسوته په دغې ځمکې کې.

امام ماوردي ددې آیت په تفسیر کې لیکلي :(امرکم بعمارة ما تحتاجون إليه فيها بناء مساكن وغرس أشجار) النكت والعيون ـ (۲/ ٤۷۹)

الله تعالی درته امر کړی دی په آبادولو د هغه څه چې تاسو ورته اړتیا لرئ په ځمکه کې جوړول د سکونت دځایونو او کینول د ونو.

انسان په ځمکه کې ددرې خبرو لپاره پیدا شوی دی: عبادت، عمارت او خلافت چې دعمارت او خلافت تقاضا دځمکې او خاورې ساتنه ده او په ځمکه کې اصلاح ده .همدا راز الله تعالی فرمایلي دي: {كُلُوا وَاشْرَبُوا مِنْ رِزْقِ اللَّهِ وَلَا تَعْثَوْا فِي الْأَرْضِ مُفْسِدِينَ }البقرة: ٦٠) ترجمه: د الله له رزق نه خورئ او څښئ او په ځمکه کې له حد نه مه تیریږئ چې ورانی کوونکي اوسئ.

او بې فائدې يې د ونو د وهلو او قطع کولو څخه منع کړی ده ،ځکه چې دا کار د ژوندانه چاپیریال ته زیان رسوي.په حدیث شریف کې راځي: (ولا تحرقن نخلا ، ولا تعقرها ، ولا تقطع شجرة مطعمة) سنن الإمام سعيد بن منصور (ص: ٣٢٦)

ترجمه: ابوبکر صدیق رضي الله عنه په غزوه مؤته کې یزیدبن ابي سفیان رضي الله عنه ته داسې نصیحت وکړ :او مه سیزه دخرما ونه (یا داچې مه سیزه د شاتو مچی ) او مه قطع کوه سر د خرما د ونې او مه قطع کوه میوه داره ونه.

همدا راز د ژوندانه د چاپیریال د ساتنې له جملې څخه لارې ، کوڅې او سړکونه او دخلکو د ناستې او ولاړې ځایونه د چتلی او مرداری څخه پاک ساتل دي . شریعت پرهغو کسانو لعنت ویلی دی چې د خلکو سیورو او دونو لاندې قضای حاجت کوي؛ ځکه دا کار پاک چاپیریال ککړوي. په حدیث شریف کې راځي: :( اتَّقُوا اللاَّعِنَيْنِ. قالوا : وَمَا اللاَّعِنَانِ ؟ قَالَ : الَّذِي يَتَخَلَّى فِي طَرِيقِ النَّاسِ أَوْ فِي ظِلِّهِمْ ) . رواه مسلم

ترجمه: ځان وساتئ د هغه دوه کارونو څخه چې سبب د لعنت گرځي. صحابه کرامو وویل : هغه دوه کارونه چې سبب د لعنت گرځي هغه کوم دي؟ نبي علیه السلام وفرمایل: هغه کس چې متیازې کوي په لاره د خلکو کې او یا په سیورو د خلکو کې.

په یو حدیث شریف کې راځي :( اتَّقُوا الْمَلاَعِنَ الثَّلاَثَ الْبَرَازَ فِي الْمَوَارِدِ وَقَارِعَةِ الطَّرِيقِ وَالظِّلِّ). سنن أبى داود (١/ ١١)

ترجمه: ځانونه وساتئ د درې لعنتي ځایونو څخه (یعنی هغه ځایونه چې له امله يې خلک لعنت وایی) ، غټې متیازې کول اوبو ته تلونکو لارو کې او متیازې کول په منځ د لار کې او لاندې د سیوري څخه .

په دې حدیث کې ټول هغه ځایونه ذکر شوي دي چې دانسانانو چاپیریال ګنل او دانسانانو په ژوند کې خورا رول لوبوي.

اوبو ته تلونکې لارې، سرکونه کوڅې او سیوري هغه ځایونه دي چې دانسانانو ژوند ورپورې تړلی دی او مونږ ته په کار دې چې هغه ځایونه پاک وساتو چې زمونږ چاپیریال ګڼل کیږي. مسلمان لره نه ښایي چې د خلکو د سیوري په ځایونو او یا په لارو اویا د اوبو په ګودرونو کې قضای حاجت وکړي.

په یو بل حدیث شریف کې راځي: (عن سعد بن أبي وقاص رضي الله عنه قال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم :طَهِّروا أفْنِيَتَكُم فإن اليهود لا تطهر أفنيتها). جامع الأحاديث (١٤/ ١٢٩)

ترجمه: له سعد بن أبي وقاص رضي الله عنه څخه روایت دی، هغه وایي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمایلي دي: خپل کورونه پاک کړئ، بیشکه یهود خپل کورونه نه پاکوي.

دټولو هیوادوالو څخه هیله کیږي چې دخاورې او،اوبو ځمکې دفساد او ککړتیا څخه ځانونه وساتي او ټول باید کوښښ وکړو چې د هرهغه کار څخه جدا ځانونه وساتو چې د ژوندانه دچاپیریال ککړ کړو.

**اقول قولي هذا ، استغفر الله لي ولكم ولسائر المسلمين**

**والسلام عليكم ورحمة الله وبركاته.**